| | | |
|---|---|---|
| **جمهورية مصر العربية** | | **١٢ صفر ١٤٤١هـ** |
| **وزارة الأوقاف** | **لغة البشتو** | **١١اكتوبر ٢٠١٩م** |

(١)

## د هیوادونو د جوړوني فقة

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چي د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی هغه پخپل کتاب کې فرمایلي: **« وَتَعَاوَنُوا عَلَى البِرِّ وَالتَّقْوَى وَلاَ تَعَاوَنُوا عَلَى الإِثْمِ والعُدْوَانِ»ژباړه:« کوم کارونه چي د نېکۍ او خدای پالني دي، په هغو کښې له ټولو سره مرسته وکړئ؛ او کوم کارونه چي د ګناه او تيري وي، په هغو کښي د هيچا ملاتړ مه کوئ.»** او زه ګواهي ورکوم چي نشته لايق د عبادت مګر يو الله دی چي هيڅ شريک نلری، او زه ګواهي ورکوم چې زمونږ سردار او نبي محمد صلی الله عليه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی، درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چې د قيامت تر ورځي پوري په نيکۍ سره د هغه تابعداري کوي.

**و بعد:**

پدې کې شک نشته چې ټول ملتونه او خلک د يو قوي او باثباته دولت جوړولو اورامنځته کولو په لټه کې دي او ځومره طاقت اوتوان چي لري ددی په رامنځته کولو کې لګوي او دا د خپلو اهدافو د لاسته راوړلو لپاره، دولت جوړونه يو ډول پوهه ده چې تجربه ، پوهه او د هغې شرايطو او ننګونو پوهيدني ته چې ورسره مخامخ دي اړتيا لري،د افرادو او د ډلو د فقه او د ملت جوړوني د فقه ترمنځ توپير په ګړندۍ بدليدونکې نړۍ کې نه پيژني مګر يوازي اتحادي، سياسي اقتصادي او کلتوري ژبه پيژني او دا د نړيوالو مقرراتو قوانينو او تړونونو لخوا اداره کيږي چې هيڅ هوښيار سړی ، يا يو دولت نشي کولی له پامه غورځوي ، معامله وکړي ، يا هغه څه سره سمون ونه کړي چې اوسني واقعيت يې تاييدوي.

نودولت حمايت،امنيت، ثقه او باورمندي، ثبات، نظام اوسيستم، اداره او يو فکري، سياسي اقتصادي،تنظيمي او تشريعي وداني ده چې د دولت پرته هيڅ شتون نلري مګر يواځي ګډوډي به وي.

د دولت د رامنځته کیدلو د مهمو عواملو څخه یوم هم دادي: د دولت د ملي نهادونو پیاوړي کول ، د قانون حاکمیت ، د اساسي قانون ریاست او د عدالت ریاست ملاتړ کول او دا د افرادو څخه غواړي چې د دولت قوانینو او مقرراتو ته درناوی وکړي او د ترافیکی مقرراتو اطاعت کول ، او په مخالف لوري د تګ نکوي، او په زیات سرعت د نه ځي، یا داسی نور شیان چې د سړک اود خلکو دحقونو باندې سرغړونه او تجاوز شمیرل کیږي د نه کوي، کوم چې ممکن دخپل روح یا د نورو خلکو د ژوند ، یا ټپي کیدو ، یا ویرولو لامل شي الله تعالی فرمایي:« وَلَا تُلْقُوا بِأَيْدِيكُمْ إِلَى التَّهْلُكَةِ وَأَحْسِنُوا إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ»ژباړه:« او په خپلو لاسونو خپل ځانونه (په سر او مال سره د جهاد په پرېښودلو) په هلاکت کښني مه غورځوئ. د ښېګڼي لاره غوره کړئ چي الله ښېګڼه کوونکي خوښوي.» او همداسی نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:لا ضرر و لاضرار.

نو د نظام ساتنه او احترام کول د یو باثباته او پیاوړی دولت رامنځته کیدو کې ونډه لري، نو هره ټولنه باید قواعد او مقررات ولري چې د خپلو غړو سلوک تنظیم کړي،اوبشري حقونه خوندي کړي، اودوي مکلف دي چې خپلی دندی ترسره کړي او نظام ته د احترام او درناوي پرته د قانون حاکمیت او د دولتونو ثبات او عدالت نه ترلاسه کیږی.

قانون ته درناوي او التزام د دولت جوړونی یوله مهموعواملو څخه شمیرل کیږی،قانون د ټولو اتباعو لپآره خوندیتوب دی ځکه چې بی له قانونه د ټولني بقاء او ثبات نشي رامنځته کیدلي نو ټولو وګړو ته لازمه ده چې د عامه ګټو لپآره خپل مسؤلیت په غاړه واخلي کوم چې د ټولني ټول وکړي د هغه څخه ګټه پورته کړي.نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایی:تاسو ټول شپون په څیر یاست او هریو له تاسو څخه د خپل رمي مسئول او ساتونکي یاست، امام د خپل رعیت کونکو په وړاندی مسئول او شپون دی سړی د خپل د اهل په وړاندی مسئول دی، او ښځه د خپل د

خاوند د کور مسئوله اوساتونکي ده او خادم یاغلام د خپل د بادار د مال ساتونکي او مسئول دی..، مسؤل ټولنه یوه همکاري ټولنه ده چې په هغه کې هریو خپل نقش او رول پیژني او د یو د بل احترام کوي،نو موږ اړتیا لرو چې سیستم ته درناوی وکړو او قانون ومنو ، او د نورو حقونه په پام کې ونیسو ، ترڅو عدالت تامین شي ،او ټوله ټولنه د امنیت او امن او ثبات نعمت څخه خوند واخلي، او مونږ خپل هیواد د نورو هیوادونو په منځ کې پخپل مناسب ځای کې وګورو.

او دولت جوړوني د عواملو څخه بل هم: اقتصادي جوړښت ده،دا د دولت یو له مهمو ستنو څخه دی چې ددی پرته دلت نشي جوړیدلي یو قوي اقتصاد دولتونو ته دا وړتیا ورکوي چې خپل کورني او نړیوال مکلفیتونه پوره کړي او د خپلو ماشومانو لپاره دروند ژوند چمتو کړي، او کله چې اقتصاد کمزوری شي ، فقر او ناروغي خپریږي ، ژوند ګډوډ کیږي ، اخلاق فاسد کیږي ، او جرمونه پراخه کیږي او دا لاملونه دښمنانو لپاره چې دننه په هیوادنو کې اوسیږي فرصتونه پراخوي او هغه خلک دي چې دا لمنځه ولاړ شي او ګډوډي رامنځته کړي، نو هغه ملتونه چې خپلې لومړنۍ او اساسي شیان نه تولیدوي او په نورو پورې تړلي دي نه خپله خبره لري او نه دوی د پریکړې خپلواکي لري.

قوي اقتصاد دولت ته دا وړتیا ورکوي چې د ملتونو ترمنځ په ویاړ او کرامت سره ژوند وکړي، نو له همدي امله اسلام د پیسو ساتلو لپاره ډیر اهمیت ورکړی ځکه چې دا د ژوند ریښه ده او یواځې ددي لاري او ذریعه ژوند تیریدلي شي.

اود هیوادونو جوړونه د اقتصاد له پلوه ډیر کار او زیاراو ډیر تولیدولو ته اړتیا لري هیڅ قوم، اداره یا کورنۍ پرته له کار څخه نشي پورته کیدلي،او یواځي دلته کار او ډیر والي مراد ندي بلکي باید د تولید زیاتوالي سره دا بشپړ شي چې د ولت په ټولو غړو اقتصادي اغیزه لري، او الله تعالی مونږ دځمکي پر سر زیار کار او کوښښ ته هڅولي یو لکه چې

فرمايي:« فَإِذَا قُضِيَتِ الصَّلَاةُ فَانْتَشِرُوا فِي الْأَرْضِ وَابْتَغُوا مِنْ فَضْلِ اللَّهِ وَاذْكُرُوا اللَّهَ كَثِيرًا لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُون»ژباړه:« بيا كله چي لمونځ تر سره شي، نو په ځمکه کښي خواره شئ او د الله فضل ولټوئ. او د الله ډېر ډېر يادوونکي اوسئ. ښايي چي تاسي ته برى په برخه شي.» او بيا فرمايي:« هُوَ الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ الْأَرْضَ ذَلُولًا فَامْشُوا فِي مَنَاكِبِهَا وَكُلُوا مِنْ رِزْقِهِ وَإِلَيْهِ النُّشُورُ»ژباړه:« هغه ذات چي ستاسي لپاره يې ځمکه پسته هواره او تابع کړېده، د هغې پر سينه باندي گرځئ او د خداى روزي خورئ، د هماغه حضور ته ستاسي په دوهم ځل ژوندي کېدو سره ورتگ دى.»او نبي كريم صلى الله عليه وسلم ترټولو هغه خواړه غوره گڼلي چې بنده د خپل د زيار او کوښښ په وسيله لاسته راوړي او خوري لکه چې نبي كريم صلى الله عليه وسلم فرمايلي دى:هيڅا هيڅکله خير خواړه ندي خوړلي مگر هغه چې پخپل لاس يې گټلي وي، او د الله تعالى نبي داود عليه السلام به د خپل د زيار خواړه به يې خوړل.

او د توليداتو په رابللو وخت کې نبي كريم صلى الله عليه وسلم فرمايلي: کله چې قيامت خپور شي او ستاسو د يو په لاس کې بوټى وى نو که کولي شي چې هغه کښت کړي نو کښت يې کړي،او په بل حديث کې نبي كريم صلى الله عليه وسلم فرمايي:هر هغه يو بوټي چې يو مسلمان يې کښت کړي او هر يو دانه چې وکري چې د هغه نه مارغه، الوتونکى انسان او چارپايان وخوري د هغه لپآره صدقه ده.، نو په کار او توليداتو سره ځمکه آباديږي او دولتونه ودانيږى او د هغه کرامت او عزت ساتل کيږي.

او د دولت جوړوني د بل عواملو څخه د کلتوري، مذهبي ، فکري او علمي پوهاوي رامنځته کول دي د شعور اوپوهاوي نشتون يا ضعف نشي کولي يو باثباته او قوي دولت رامنځته کړي نو له همدي امله بايد د ټولني د غړو ترمنځ پوهاوي لوړ شي او هرڅوک بايد پخپل حقوق او واجباتو باندي وپوهيږي.

او دا پوهاوي رامنځته کول د ټولني د ټولو وکړو په وجدان او او رفتار او د هغوي د تربيوي اخلاقي کلتوري ګټو او د جهل په وړاندي د ودريدو په مقابل کي راڅرګنديږي،نو د همدي لپآره ټولو دولتي ادارو ته دا لازمه ده چې د کلتوري، ديني ، فکري علمي پوهاوي په لوړولو کې ډيرزيار وباسي څکه دا خلکو ته وړتيا ورکوي چې د ننګونو شدت وپيژني او ورسره مقابله وکړي او د اوازو،شخړو او وژني سره مبارزه وکړي او د درغو اوازو او شايعاتو پسي ولاړ نشي هغه چې کوښښ کوي زمونږ هيواد لمنځه يوسي لکه چې الله تعالى فرمايي:« يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنْ جَاءَكُمْ فَاسِقٌ بِنَبَإٍ فَتَبَيَّنُوا أَنْ تُصِيبُوا قَوْمًا بِجَهَالَةٍ فَتُصْبِحُوا عَلَى مَا فَعَلْتُمْ نَادِمِينَ» ژباړه:« اې مؤمنانو! که کوم فاسق تاسي ته له کوم خبر سره راشي، نو تاسي (د خبر په اړه) پلټنه او تحقيق وکړئ، هسي نه چې کومي ډلي ته په ناپوهۍ سره ضرر ورسوئ او بيا پخپلو کړو پښيمانه شئ».

مونږ بايد محتاط او هوښيار ووسو او نورو ته هم دا ورسوو او د ژوند د تجربو څخه ګټه پورته کړو لکه چې الله تعالى فرمايي:« يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا خُذُوا حِذْرَكُمْ» ژباړه:« اې مؤمنانو! هر وخت د مقابلې لپاره چمتو اوسئ،»او نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايي: يو مومن دوه ځله د يو سوري لخوا نه چيچلي کيږي.،او مونږ پوهيږي چې د دولت جوړونه او د هغه ساتنه زمونږ د ټولو پر غاړه يو امانت دی په هر ډګر او هر ميدان کې او پدي تاکيد سره چې جوړونه کيږي مګر د ويجاوړونکو د لاس نيوني نه پرته، شاعر وايي:

**جوړښتونه به کله د هغې بشپړيدو ورځ ته ورسيږي؟******

**کله چې ته دا جوړ کړئ او نور يې له مينځه ويسي******

او نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايلي:برياڵي که ورور دی که ظالم وي او که مظلوم، نو يو سړي وويل: اې د الله رسوله برياڵی به يې کړم که چيرته مظلوم وي ، که ومی ليده چې ظالم دی نو څنګه به يې برياڵی کړم؟ وی فرمايل: منع يې کړه او وی ساته د ظلم څخه دا د هغه لپاره بريا

ده.،زمونږ د هريو د مسئوليت په دايره کې دا راځي چې هر هغه څوک چې د ملي ګټو د زيان رسولو لپآره راوځي بايد د لاس څخه ونيولو شي او د هيواد څخه بهر کړی شي،پلار د خپل ځوي، ورو د خپل ورور، ملګری د خپل ملګري لاس نيسي، موږ غير فعال نه يو مګر د هغه څه څخه خبر نه يو چې زموږ شاوخوا پيښيږي.
دا کفايت نکوي چې انسان پخپل ذات کې ښه ووسي ځکه د فقه مرحله ددی غوښتنه کوي چې بايد د ښه والي او صلاح مرتبی څخه د اصلاح کولو مرحلي ته واوړی.لکه چې الله تعالی فرمايي:« لَا خَيْرَ فِي كَثِيرٍ مِنْ نَجْوَاهُمْ إِلَّا مَنْ أَمَرَ بِصَدَقَةٍ أَوْ مَعْرُوفٍ أَوْ إِصْلَاحٍ بَيْنَ النَّاسِ وَمَنْ يَفْعَلْ ذَلِكَ ابْتِغَاءَ مَرْضَاتِ اللَّهِ فَسَوْفَ نُؤْتِيهِ أَجْرًا عَظِيمًا»ژباړه:« د خلکو په پټو مجلسونو کښي زياتره څه ښېګنه نه وي. هو، که څوك په پټه توګه د صدقې او خيرات لارښوونه وکړي يا د کوم ښه کار لپاره يا د خلکو په چارو کښي د اصلاح کولو لپاره چا ته څه ووايي، نو البته دا ښه خبره ده، او څوك چي د الله د خوشحالولو په خاطر داسي وکړي، هغه ته به موږ لوی ثواب ور په برخه کړو؛»او په بل ځاي کې فرمايي:« وَمَا كَانَ رَبُّكَ لِيُهْلِكَ الْقُرَى بِظُلْمٍ وَأَهْلُهَا مُصْلِحُونَ»ژباړه:« ستا رب داسي نه دی چي په ناحقه کلي تباه کړي، په داسي حال کښي چي د هغو اوسيدونکي سمون راوستونکي وي.»، اصلاح کول د انبياء او رسولانو لاره ده،او د هغه په ذريعه دولتونه جوړيږي، او د هغو د يواولي، قوت او اړيکو ساتنه کيږي ترڅو بشريت په سوله اوامنيت کې ژوند وکړي او جنګ اوتاوتريخوالی نه وي او کينه او وحشت نه وی او د ځمکي په سر ويجاړی او وژنه او وراني نه وي.

**اقول قولی هذا و استغفرالله لی ولکم**

*********

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چي د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی، درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چې د قيامت تر ورځي پوري په نيکۍ سره د هغه تابعداري کوي.

**ډيرو درنو مسلمانانو ورونو:**

د دولت د جوړوني له عواملواو د هغه ساتني څخه بل هم اجتماعي جوړښت دی اسلام د اړيکو او ټولنيزو اړيکو پياوړتيا ته ليواله دی چې د ټولني د غړو تر منځ شتون لري ، او د ورته ټولني د غړو تر منځ همغږي او شفقت رامنځته شي ، اونورو ته زيان و نه رسوي، لکه چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:ستاسو څخه يو هم بشپړ مومن ندي ترهغه چې هر څه چې ځانته خوښوي هغه خپل ورور ته هم خوښ کړي.،او په بل ځاي کې فرمايي:په والله چې ايمان نلري، په والله چې ايمان نلري، په والله چې ايمان نلري، وويل شو: څوک ای د الله رسوله؟وفرمايل:هغه چې د هغه نه ګاونډي يې په امان کې نه وي.

د ټولنيز جوړښت لپاره يوبل لامل هم د کورني جوړونه ده چې کورنيبايد په سمه توګه سره وروزل شي ځکه کورني د ټولني د جوړوني لپآره لومړني خښته ګڼل کيږي اوکه چيرته يوه کورني په سمه توګه وروزل شي نو هغه د ټولنييه جوړښت کې اغيزمن رول لري نو د همدي لپآره د اسلام مبارک دين د کورني جوړښت او همدارنګه د هغه په رامنځته کولو کې بيلابيل لارښووني کړي دي چې بايد هغه ټول په نظر کې ونيول شي.

همدارنګه د دولت او د ټولني د جوړوني د لاملونو څخه بل هم د اخلاقي ارزښتونو لوړوالي دی ملتونه او تمدنونه بغير د اخلاقو څخه نشي پورته کيدلي نو د همدی لپآره ټولوته پکار داده چې د اخلاقو او همدارنګه د ارزښتونو د ساتني لپآره په ګډه کار وکړي اوپدي هکله بيلابيل احاديث هم راغلي دي چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم تل په همدي باندي ټينګار کړی دی چې بايد د ښه اخلاقو او د ارزښتونو د ساتني لپآره په ګډه سره

کار وکړی شي نو له همدي لپآره مونږ او تاسو ټولو لپآره لازمه او اړینه ده چې د ښه اخلاقو او د ارزښتونو د ساتني لپآره په ګډه کار وکړو او پدي کې هغه څه ته نظر وکړو چې د اسلام مبارک دین مونږ ته د همدی شیانو لارښونه کوي چې باید پدغه ډګر کې د ښه اخلاقو د ساتني لپآره کوټلي ګامونه پورته کړو.

**نسأل الله عز وجل أن يهدينا لأحسن الأخلاق وطيب القول**

**وأن يديم عَلَيْنا نِعْمَةَ الأَمْنِ والأَمَانِ والاسْتِقْرَارِ**

**وأن يحْفَظْ مِصْرَ وَأَهْلَهَا وسائر بلاد العالمين من كل سوء ومكروه**